# د فقیر محمد عباس قادریه ژوند، او تصنیفاتو ته یوه تنقیدي او تشریحي کتنه

**Faqeer Muhammad Abbas Qaderya's Life and Works: An Explanatory and Critical Analysis.**

Said ul Amin*

**Abstract:**

The tradition of translation from other adjacent old and modern languages into Pashto is as old as the literature itself. At the very initial stages of Pashto literature, one can find ample translations and commentaries made and, written down on the classical Arabic and Persian theological, poetic and literary works. Keeping that tradition alive, Allama Faqeer Muhammad Abbas Qaderya, left no stone unturned in enriching Pashto literature by his encyclopedic contribution in translation, compilation and writing down commentaries on certain religious and literary texts. Faqeer Muhammad Abbas had worked tirelessly, and while penning down literary history of the period; his rich contribution cannot be overlooked. Ironically, life and works of such a gigantic literary figure are yet to be brought to the fore. An attempt has been made in this article to focus upon his works, throw shed upon his life, and look into his works, with an analytical and critical approach.

**Keywords:** Allama Faqeer Muhmmad Abbas Qaderya, Translation, Pashto Literature, Religious Texts,Khudayee Khidmatgar.

هشتنګر یامفغن هشتنغر اواشنغریا دبدهیانو استانه ګرام دخپل ثقافتي اوتهذیبي قدامت،سماجي اوسیاسي مرکزیت،اوتاریخي اهمیت په وجه تل دتاریخ په زرینو پاڼو کښې ښکاره پاتې دے.دقدیم هشتنغر جغرافیائي پولې اوبریدونه دوخت تېرېدو سره اوړېدلي رااوړېدلي ښکاري.اوشایددغه وجه ده چې کله ددې خاوږې سره متعلق دسیاسي ،مذهبي اوسماجي تحریکونو خبره کیږي نومحققین دابهام سره مخ کوي چې ددې اصلي اوبنیادي حدود به کوم وي؟.دقدیم یونان اوفارس دپاره هم هشتنغریواهم جغرافیائي حیثیت لرلو.اوځکه دهغوي د تسلط په دورونو کښې به د هغوي یو استاذے یا نمائنده ضروردلته موجود وۀ.

په دې خاوږه دسیادت اوقیادت،علمیت اوفضیلت،سیاست اومعاشرت،مزاحمت اوموافقت لویو شخصیتونو خړپوسي وکړل. نړۍ ته ئې خپل مقصدي پېغامونه ورکړل .ځانونه ئې

* Civil Servant Government of Pakistan

امرکړل اوترننه په زړونو اودماغونو راج کوي. په دغه شخصیاتو کښې مونږ دیو عالم اوفاضل،مؤلف اومصنف،ترجمه نگار اوشارح،نعت گو اومضمون نگار،عملي صوفي اوسیاستکار خداے بخښلي علامه فقیرمحمدعباس قادریه ژوند اوتصنیفاتو ته په یو تنقیدي اوتشریحي نظر دکتلوهڅه کوو.
خداے بخښلے میا ثناء الدین کاکاخېل د فقیر محمد عباس قادریه له اردو نه دمفتي کفایت الله صاحب ترجمه کړي شوي کتاب 'تعلیم الاسلام'کښې ددوي دپېژندگلو په باب لیکي چې: 'فقیرعباس د اگست په وړومبي تاریخ کال نولس سوه څلېریشتم کښې 1924ع (۲۹ ذي الحجه ۱۳۴۲ ) کښې د هشتنغر په ډېر یادکلي رڅړکښې دبهادر خان کره وزېږېدو'.میا صاحب د دوي شجره نسب داسې ذکر کوي:' محمد عباس ولد بهادر خان ولد سید عالم خان ولد ازادخان ولد صالح خان ساکنان رڅړ'.دوي وړاندې لیکي چې وئېلے شي چې 'ددوي مشران اکثر دسید احمد شهید ،سوات باباجي صاحب،اډې ملاصاحب اودحاجي صاحب ترنگزو سره په جهادونو کښې شریك شوي وو.دذات نه پښتون محمدزے دے'.دغه دعوې نورتحقیق غواړي. او رښتیاداد ي چې په دې خاؤره د وجود موندلو او خاموشه شویو تحریکونو په باب مقامي محققینو ډېر کم تحقیق کړے دے او مونږ لاتراوسه د خارجي شرق شناسو په تحقیقاتو شخوند مات کړے دے.موصوف میا صاحب ددوي درسمي تعلیم په حقله لیکي چې: 'ابتدائي تعلیم ئې داتمانزو په آزاد سکول کښې کړے دے ،بیا دپېښور یونیورستۍ نه گرېجوېټ شو، لاس نیوه ئې په قادریه سلسله کښې دحاجي صاحب ترنگزونه کړې وه'. دوي لیکي 'چې کله دوي (میاصاحب)په مدرسه نصرة الاسلام کاکاصاحب ،نوښار،کښې په کال نولس سوه اتهٔ دېرش ۱۹۳۸ع کښې سبقونه لولولو نو ددې کتاب باره کښې ئې دترجمې اوشائع کولو ارمان وهٔ،[1] چې دوي په څهٔ وجوهوسره ونهٔ کړے شو،اوداسعادت الله دهٔ ته ساتلے وهٔ۱.دالیکل میا صاحب په ۲۰ ستمبر ۱۹۷۰ع کښې کوي. خو حاجي صاحب ترنگزئ په ۱۴دسمبر ۱۹۳۷ع کښې وفات دے. چې دغه وخت دفقیر عباس قادریه صاحب عمر دزېږون دورکړي شوي کال ۱۹۲۴ع مطابق دیارلس کلونه جوړېږي .نوپوښتنه پېداکېږي چې څنگه به ئې ترې په دومره لږعمر کښې لاس نیوه کړې

[1] مدرسة نصرة الاسلام ،په زیارت کاکا صاحب ،نوښار،کښې مدرسه وه،اوهغه وخت ئې لوے علمي اومرکزي حیثیت ئې لرلو.

وي؟.اګر کۀ عقل سليم به دا خبره ومني خو بيا به هم مونږ له يو قوي دليل په کار وي. او د دليل په عدم موجودګۍ کښې به مونږ دغه قول منلو ته ډېر نۀ مائله کېږو.

له دې علاوه د پښتو اکېډيمۍ،پېښوريونيورسټۍ کتب خانې ته دقادريه صاحب دکورنۍ له لوري ورکړې شويو کتابونو،معلوماتو اوتعارفي ليک کښې ،چې پرې د '۱۰-۳-۲۰۲۱ ع'نېټه ليک ده۲، اوداسې ښکاري چې داددوي دوفات نه پس ليکلې شوې ده.ځکه چې دغه ليک دوي دوفات تاريخ هم لري. ددوي د ژوند اوعلمي اوادبي هلوځلومتعلق دا لاندې نقل شوي تفصيلات لري:

دزېږون نېټه 'داګست وړومبے تاريخ کال نولس سوه څليرېشتم( ۱۹۲۴ع)،اودوفات تاريخ د مۍ اوومه کال دوه زره پينځلسم( ۲۰۱۵ع)' ذکرکوي.درسمي تعليم متعلق پکښې ليک دي چې: 'اولنۍ زده کړې ئې په آزاد سکول اتمانزو کښې وکړې.اولسم جماعت ئې دګورنمنټ هائي سکول چارسدې، نه پاس کړو. بيا دولسم جماعت دپاره ئې په اسلاميه کالج پېښور،کښې د اخله واخسته. بي اے انرز،ايم اې عربي،ايم اې فارسي،ايم اې پښتو،انرز ان پشتو'ئې هم له پېښور نه وکړل.دغه ليک کښې نور ليک دي چې:' هم دلته اسلاميه کالج کښې ئې ملازمت شروع کړو'.خومتاسفانه دغه ليک کښې ددوي د ديني تحصيلاتو په باب معلومات نشته چې دغه ضمن کښې ئې استاذان ئې څوک وۀ؟ او له کومو ادارو نه ئې رسمي زده کړې کړې وې.؟اودامونږ په دې نتيجه اخذکولو مجبوروي چې ددوي باقاعده ديني رسمي زده کړو باره کښې دکوم داخلي شهادت په عدم موجودګۍ کښې قطعي رائې قائمه نۀ کړو.ځکه ددوي په ليکونو کښې زيات ترترجمې دي اوپه هغو کښې هم زياتې له اردو دي.اصلي عربي يافارسي متونو ته پکښې رسائي کمه بلکه دمحتاطې وېناتر مخه چرته چرته دنشت برابر ښکاري. البته دغه ليک داخبره هم لري چې 'دملازمت نه دفارغېدو نه پس ئې په کور کښې دتصنيف اوتاليف کار شروع کړو، اودومره کار ئې وکړو چې ۵۰۱۵ کتابونه ئې ترجمه،تاليف اوتصنيف کړل' .۳.دکتابونو شمېر کښې مبالغه زياته ښکاري. ځکه چې هم ددوي له اړخه خپلومختلفوکتابونو کښې ورکړې شوي فهرستونه د 'پينځوزروپينځلسو' کتابونو تفصيلات نۀ لري.اواکثرومحققينو لکه ډاکټر مصطفیٰ کمال اوډاکټر سهېل خان دغه خبرې بغېر له څۀ قوي دليل لرلونه رانقل کړې دي.اودغه ضمن کښې دهغوي تجزيه اوتحقيق په نظر نۀ راځي.

هم دغه معلوماتو کښې ددوي دکورنۍ متعلق ددوي ددرېو زامنو' محمد طيب،عبدالحفيظ اوعبدالقادر اودرېو لوڼوذکر دے.زامنو کښې ئې محمد طيب مشرد ے.چې دهغهٔ ددوه زامنو نومونه دلته محمد صالح اوعبدالوهاب ذکردي.' دادستاويز ليکي چې' دوي په تفسير،تاريخ اسلام، فقه،حديث اوتعليم الاسلام په موضوعاتو کتابونه تاليف اوترجمه کړل'. ددوي تاليف،ترجمه اوليکل شويوکتابونوشمېردې دستاويزکښې' دپينځو زرو اوپينځلسو 'د ے.۴ دکتابونو دشمېر په تعين مونږ پوره خبره کړې ده.

د' تعليم الاسلام- څلورمه برخه 'کښې دوي د'لرږ خپل حالات' ترعنوانه ليکي:

'دموراوپلارنه مونږ شپږ ورونه اويوه خور يو،چې نومونه ئې دادي: سيد کريم خان،ممتاز خان ،محمد عباس،فضل ربي،شاه جهان،عبدالکريم اومحترمه مزاج بېگم'۵.

دا دستاويز د علامه فقير محمد عباس قادريه د ذاتي ژوند په حقله يو داسې حېثيت لري چې د نورو قوي معلوماتو په لوري زمونږ لارښودنه کولے شي.

.ډاکټرسهيل خان خپل اردوکتاب' تاريخ چارسده' کښې دفقيرمحمد عباس قادريه دژوند اوفن متعلق ليکي:

'علامہ فقیر محمد گاؤں رجڑ میں باز محمد خان کے ہاں 1901 میں پیدا ہوئے. آٹھویں جماعت تک تعلیم باچاخان کے آزاد ہائی سکول اتمانزئ سے حاصل کی. جبکہ میٹرک کا امتحان گورنمنٹ ہائی سکول نمبر 1 چارسدہ سے کیا۔افغانستان ہجرت کے دوران آپ بھی 1920ع میں شرکت کے لئے چلے گئے آپ کبڈی کے بہت اچھے کھلاڑی تھے آپ کی وجہ شہرت آپ کی وہ تصانیف ہیں جن کی تعداد 550 ہیں،اور ڈاکٹر ظہور احمد اعوان کے مطابق انہوں نے علامہ فقیر محمد کا نام گینز بک آف ورلڈ ریکارڈ کے لئے بھیجا تھااور ان کی ٹیم بھی رجڑ آچکی تھی۔تاہم علامہ فقیر محمد کی بیماری کے باعث کتابیں پیش نہ کی جاسکیں ۔سال 1983ع میں آپ کو صدارتی ایوارڈ بمعہ ایک لاکھ روپیہ انعام بھی مل چکا ہے۔۔آپ خدائی خدمتگار تحریک کے صف اول کے کارکن تھے اس دوران آپ نے کئی سال قید وبند کی صعوبتیں بھی برداشت کیں اس کے علاوہ تحریک کے رسمی ہدایات اور کارروائی کے لکھنے کے انچارج بھی آپ ہی تھے۔آپ کی ایک نظم جلسوں میں بے حد مقبول ہوئی'

ووڅ ورکړئ هغه ځوان ته چې په تاباندې قربان دے
ربنتيا فخرافغان دے خطا نهٔ شئ پښتنو '.۶

پښتوترجمه:

علامه فقيرمحمد په رزړکلي کښې بازمحمدخان کره نولس سوه يو1901ع کښې وزيږېدو.تراتم جماعت تعليم ئې دباچاخان ازاد هائي سکول اتمانزئ کښې حاصل کړواودلسم جماعت امتحان ئې دګورنمنټ هائي سکول نمبر۱چارسدې نه ورکړو. افغانستان ته دهجرت کولو په دوران کښې ۱۹۲۰ ع کښې دوي هم لاړل. دوي دکبډې ښهٔ لوبغاړے وهٔ. ددوي دشهرت وجه هغه تصانيف دي دکومو شمېر چې پينځهٔ نيم سوه دي اوډاکټر ظهور احمد اعوان ترمخه هغوي دعلامه فقيرمحمد نوم دګېنز بك اف ورلډ ريکارډ دپاره لېږلے وهٔ اودهغوي ټيم هم رځړو ته راغلے وهٔ خوددوي دبيمارۍ په سبب هغه کتابونه ورته وړاندې نهٔ کړے شول.په کال نولس سوه درې اتيا کښې ورته صدارتي اېوارډ ديولاک□ روپيو سره بطورانعام ورکړے شول.دوي دخدائي خدمتګاردتحريك داول صف سړے وهٔ.او دغه وختونو کښې دوي دقېد اوبند سختۍ هم وزغملې.له دغه علاوه دوي دتحريك درسمي هداياتو اوکارروائۍ دليکلو ذمه داري هم لرله هم ددوي يو نظم په جلسو کښې ډېرخوښ کړے شو'.

عجيبه داده چې ډاکټرسهېل خان خپل دغه پورته ذکر اواقتباس کښې دفقير صاحب دزېږون کال نولس سوه يو (۱۹۰۱ع) ذکرکوي.اوپه دغه اساس دوي داهم ليکي چې فقيرمحمد عباس صاحب په کال نولس سوه شل (۱۹۲۰ع) کښې افغانستان ته دشوي تاريخي هجرت برخه هم وهٔ.نوکهٔ دوفات کال ئې نولس سوه څليريشتم صحيح ثابت شي،لکه چې ماسره دفقيرمحمد عباس قادريه دشناختي کارډ عکس دے،کوم چې ماته دهغوي نمسي عبدالوهاب بن طيب بن فقيرمحمد عباس قادريه راکړے دے.اودزېږون کال پکښې نولس سوه څليرېشتم(۱۹۲۴ع) دے.اوس نودمحترم ډاکټر سهېل خان دوېنا ترمخه افغانستان ته هجرت کښې به د فقير صاحب دشاملېدو څهٔ دليل وي؟بله داچې دوفات دکال دوه زره پينځلسم(۲۰۱۵ع )مطابق به په دغه حساب يوسل څوارلس کلونه جوړېږي چې ممکن نهٔ ښکاري.او نور تحقيق غواړي.

دپښتو اکېډيمۍ دغه ليك وړاندې ددوي دتفسيرقرآن په موضوع دترجمه شويو کتابونو فهرست داسې ذکرکوي:

'تفسيرمحمدعباس،فتاح القرآن،اسان

تفسيرالقرآن،نورالفرقان،کنزالايمان،تفسيرنورالفرقان،تفسيربيان القرآن (پښتوترجمه) په صِحاحِ ستّه کښې د'صحيح بخاري شريف،صحيح مسلم شريف،جامع ترمذي،سنن ابن ماَجه، سنن نسائي،موطا ء امام مالك،مشکوة،زادراه،راه عمل ،سفينه نجات،شفاء

للناس،دم درود،حجة الله البالغه، شرح اسمآءالحسنی،علم وعرفان،کشف المحجوب(پشتوترجمه)،سیرة النبي،حیاة الحیوان،مکتوبات امام رباني،پېغمبري علاج،علمي ګلونه،داصحابو اخلاق ، تعبیر الر ء ویا، ګنجیه اسرار،کرامات اولیاء،وغېرهم پښتو ترجمې '۷'ذکرکوي.

خدا ے بخښلے علامه فقیر محمد عباس قادریه صاحب د خپل کتاب 'خوارۀ حمدونه'۸ په شروع کښې دخپلو تالیف شویو،ترجمه شویو اوتصنیف شویوکتابونو' شمېردرې سوه پینځلس' لیکي. اوداسې ښکاري چې دوي د دې بیان نه پس هم دکتابونو تخلیق کولوسلسله روانه ساتلې وه.دغسې د خپل بل کتاب 'پرهېزګارے بیبیانے (پرهېزګارې بیبیانې)۹ آخر کښې دوي ددغه کتابونو تفصیل څۀ دارنګ ورکوي:

دنظامي عروضي چهارمقاله،دامام غزالي احیاء العلوم(کتاب العلم)،دحضرت پیران پیر صاحب فتوح الغیب، د حضرت شاه ولي الله حجة الله البالغه (وړومبنې بحث)،نېك عمل(ددنیا دمختلفو مذهبونو دبزرګانو اقوال)،اسمائ حسنیٰ (وړومبے ایډیشن ۱۹۲۸)،دحضرت امام غزالي احیاء العلوم (کتاب العقائد)،دم درود(دحضرت مولانا اشرف علي تهانوي 'اعمالِ قرآني'پښتو ژبه کښې)،معرفت،پندونصیحت،عبرت،حقیقت،خدمت،حکمت، قصیده برده مع پښتو منظوم ترجمه،قصیده غوثیه مع پښتو منظومه ترجمه،اوراد ووظائف حضرت غوث الاعظم دستګیر،مناقب حضرت غوث الاعظم ،تبرکات،څلوېښت حدیثونه،مضامینِ فقیر محمد عباس قادریه،دپښتو کتابونه،شرعي پرده،کشف المحجوب (پښتو)،زمامونځ،دحضور صلی الله علیه وسلم خوي خصلت،دنصیحتونو ګلدسته،دحضرت امام غزالي دژوند حالات اوکارنامې،دحضرت پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلاني دژوند مبارك حالات اوکارنامې،دحضت خواجه معین الدین چشتي دژوند حالات اوکارنامې،دحضرت مجدد الف ثاني دژوند حالات اوکارنامې،دحضرت شاه ولي الله دژوند حالات اوکارنامې،دحضرت شیخ احمد برېلوي دژوند حالات او کارنامې، د حضرت حاجي صحب ترنګزو دژوند حالات اوکارنامې، شفاء،جامع ترمذي په پښتو ژبه کښې،تفسیر محمد عباس قادریه،اسمائ حسنیٰ،دوېم ایډیشن-(۱۹۸۰ع)،دحضرت مفتي کفایت الله تعلیم الاسلام وړومبنی حصه،دوېمه حصه، درېمه حصه،او څلورمه حصه، تاریخ الاسلام درې برخې دمولانا محمد میا صاحب،قال اوحال ،علم اوعرفان،قوالي اودهغې متعلق مختلف اقوال،داسمائې حسنیٰ

ختم شريف،څلور مذهبونه،(حنفي، شافعي، مالكي، حنبلي ) ، څلورطريقي-(قادريه، نقشبنديه،چشتيه،قلندريه،)،دحكيم الامت حضرت مولانااشرف علي تهانوي دژوند حالات اوكارنامې،دحضرت مفتي كفايت الله دژوند حالات اوكارنامې،دمبلغ اسلام حضرت مولانا محمد الياس دژوند حالات اوكارنامې،دپېغمبرانومعجزې،داولياء كرامات، د مولاناروم دژوندحالات او كارنامې،احسن القصص-دزلېخې يوسف قصه)،مخزن الحسنات،دينيات،فلاح دارين(داورادو تعويذاتو ، عمليات اووظائفو پښتوكښې يو لاثاني كتاب،خطبات النبي صلى الله عليه وسلم،اسم اعظم،مسلمانې بيبيانې،دحديث علم،دحديثونو غنچه،دتصوف دنيا ، د سيرة النبي صلى الله عليه وسلم خلاصه، دحضور صلى الله عليه وسلم تعليمات،دحضرت شيخ سيدنا عثمان لعل شهباز قلندر دژوند حالات اوكارنامې،دامام غزالي رحمة الله عليه احياء العلوم (كتاب الطهارة)،دم درود-د اورادو وظائفو عملياتو اوتعويذاتو په پښتو كښې يو بې بها كتاب،اقوال فقير محمد عباس قادريه،دمنصور حلاج دژوند حالات،درويشان،حجة الله البالغة دوېم، درېم،څلورم اوپينځم بحث،دحضرت سيد علي ترمذي پير بابا حالات،دحضرت اخوند درېزه بابا حالات،دحضرت ميا عمر دڅوكنو حالات،دسوات باباجي اوسيدوغوث رحمة الله عليه حالات،دهډې ملا صاحب رحمة الله عليه حالات،داټك دحضرت جي حالات،دحضرت ملا شور بازار حالات،دپښتو دكتابونو رسالو اواخبارونو تازه فهرست،تتمه كتاب الطهارة،دحاجي ميررحمان خان (ګاړه‌صاحب)داتمانزو اشنغر حالات،دامام غزالي احياء العلوم (كتاب الصلوة)،حجة الله البالغة شپږ اواوم بحث)،داخرت توښهِ مشهورصحابه رضي الله عنهم،غازي او شهيد،دنيا اوآخرت،كيمياۓ سعادت،بخت اوتخت،اوراد اووظائف،تعويذات،صلح اوامن،اصحاب كهف،نوَر اوسپومۍ،سيرت اوصورت،رڼا اوتيارهٔ،پير امريس،ذوالقرنين،خوارهٔ ياودنه،ملكه بلقيس اوسليمان عليه السلام،بادشاهي اوګواهي،فرعون او موسیٰ،امتحان اوكاميابي،دصبر مېوه،جنت اودوزخ،كبر اوزوال،دشيطان دام،حلال اوحرام،حورې او غلمان، علم اومال،ربنتيا وينا،حق اوباطل،باغِ ارم،هدايت اوضلالت،دجنت نعمتونه،قرباني اوازادي،فكر اوذكر،علم اوعمل،باغ اوتازه ګلونه،محمود اواياز،دحاجي بهادر صاحب د كوهاټ حالات،جنت فردوس،دشيخ سعدي حالات،دامام بخاري رحمة الله عليه حالات،څلورياران،اووهٔ بزرګان،عالمان اوعارفان،عباس اللغات،امامان،كند كچكول،دلنګر ډوډۍ،استاذ اوشاګرد،پير بهايئان،په مخه دِ ښه،دګټ

ناسته(گوشه نشيني) ديوان فقير محمد عباس قادريه،اصلي جنتي کالے،دصحابه ؤ قصې،اسانه قاعده له فقير محمد عباس قادريه (دقرآن شريف زدکړې دپاره)،منتخبات عبدالرحمان بابا،شهيدان،خواجه حافظ شيرازي،جمال الدين افغاني،سلطان بايزيد بسطامي،شېخ ابوالحسن خرقاني،حضرت ذوالنون مصري، شېخ جنېد بغدادي، شمس تبرېز صاحب،عارفانې بيبيانې، دوېم جلد چې هغې کښې دحضورصلی الله عليه واله وسلم دبيبيانو(امهات المومنين رضي الله عنهن ) بيان دے،پرهېزگارې بيبيانې دوېم جلد کښې دصحابيه ؤ رضي الله عنهن اونورو باکماله بيبيانو حال ليکلے شوے دے.چې زهداوتقوی کښې خپل مثال په خپله وې حمدونه،نعتونه،مناقب اولياء داکتابونه چې ديوکتاب جلدونه بي بيل هم وشمېرلے شي نو تقريباً اتهٔ شلې پوره کيږي.اوددرې سوه ديارلس شمېرنهٔ پوره کيږي شايد نور دلته ذکرنهٔ وي.

له دغه کتابونوڅخه، څهٔ چې زما له نظره تېر دي،مونږېرې ديو لاندې کرښو کښې لنډ بحث کوو.

۱- مسلمانے بيبيانے(مسلمانې بيبيانې ) ۱۰ ددې کتاب ټرون دبي بي اسيې رضي الله عنها په نوم شوے دے او علامه صاحب پکښې خپله پته اودرك داسې ليکي:

'ديني مدرسه حجره بهادرخان مرحوم کندے محمدزئ کلے رڅړ علاقه هشتنغر تحصيل چارسده'

'مقدمه دمصنف 'کښې دوي نوروخبرو ،اوداستفادې د کتابونه ذکرکولو نه علاوه دپښتو اکېډېمۍ د لوړو عالمانو اوشعبه اسلاميات دپروفېسرانو دعلمي امداد کولو شکريه اداکوي. اوخپل کشر زوي عبدالقادر اوټولو مسلمانانو زنانه اونارينه ؤ له دالله نه دخېر دعا غواړي.دکتاب په شروع کښې دوي شپږ شلې حديثونه پښتو کښې ترجمه کوي .ديو حديثونو سره عربي متن نشته ،پښتو ترجمه ئې روانه او ساده ده. دوي دبي بي حوا ، بي بي ساره،بي بي هاجره،ملکه سبا بي بي بلقيس،بي بي رحمت (دحضرت ايوب عليه السلام ټبر)،بي بي اسيه، بي بي صفوره،بي بي مريم،اونوروحالات بيانوي۱۱.د کتاب په آخر کښې د'عارفانے بيبيانے' اشتهار راځي. چې د دېو امهات المومنين (رضي الله عنهن) نومونه لري .بي بي خديجة الکبریٰ،بي بي عائشه صديقه، بي بي سوده لوردزمعه،بي بي حفصه لوردعمر،بي بي زينب لوردخزېمه، بي بي ام سلمه، بي بي زېنب لوردجحش، بي بي جوېريه لوردحارث،بي ام حبيبه لورډابوسفيان،بي بي مېمونه لوردحارث،بي بي صفيه لوردحئي،رضي الله عنهن.

کتاب عامو لستونکیو ته ډېر ګټور معلومات بخښي اودتذکره نګارۍ ضمن کښې مونږ دااهم کوشش ګڼلے شو . خصوصاً چې مونږ سره دبيبيانو په حالاتو ډېر کم معلومات په شائع شوي شکل کښې موجود دي.

۲-پرهېزګارې بيبياني(پرهېزګارے بيبيانے) هم ددې کتاب آخر کښې اشتهار کښې دوي ليکي:

'دې کتاب کښې دحضورصلی الله عليه وسلم دلوڼو مبارکو،دصحابه ؤ دبيبيانو اودغسې دنورو پرهېزګارو اوپه خدا ے اورسول عاشقو بيبيانو بيان راځي په تفصيل کښې ئې د يوکم شپېتو بيبيانو فهرست ورکوي. دادبي بي زېنب لوردمحمد صلی الله عليه وسلم نه شروع کيږي او دبي بي ام هارون په نوم سرته رسي.دنورو کتابونو په شان ددې کتاب په اخر کښې هم'دمصنف دکتابونو فهرست' ترعنوانه ددوي دکتابونو ذکردے.۱۲دليك انداز ئې ساده اوسليس دے.حکايتي اوبيانيه انداز ئې دعام اولس زړونه راکاږي.په کورونو کښې دناستو زنانو دپاره چې دڅۀ ناڅۀ درس اوتدريس سره تړون لري داسې کتابونه دهغوي درسي ضرورتونه هم پوره کوي اودژبې پنګه هم درنوي.

۳-دامام المحدثين حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه 'کتاب الصلوة '۱۳اله فقير محمد عباس قادريه پښتو ترجمه اتۀ څلوېښت( ۴۸) عنوانات لري. ددې کتاب په اول کښې مولف دامام احمد بن حنبل رحمه الله، د ژوند حالات ذکرکوي .دليك اسلوب ئې ساده دے د خپلو دعوو په دليل کښې دقرآن کريم او پاکو حديثونوحوالې کمې راؤړي .خبره په ساده ټکيو اوبليغ اندازکښې کوي .تصنع اولفاظي پکښې نشته.

'رسالة الصلوة'۱۴دامام اهل السنة امام احمد بن حنبل تاليف دے. اوالاستاد محمود محمد شاکرمقدمې سره دوباره شائع کړے دے.دارساله دمونځ داحکاماتو متعلق يوکم شپېتۀ علمي بحثونه ،څلورشپېتۀ مخونه او په آخر کښې د'تخريج احاديث رسالة الصلوة'۱۵ترعنوانه اتۀ پنځوس حوالې لري.امام ذي وقار دکتاب په اخر کښې داسې ليکي'فرَحِم اللهُ امرءاً احتسب الاَجر والثواب فبثّ هٰذالکتاب في اقطارالارضِ ،فان اهلَ الاسلام محتاجون اليه'۱۲

ترجمه:الله دې په هغه سړي رحم وکړي چې داجر اوثواب نيت وکړي اوداکتاب دزمکې په اړخونو کښې خور کړي ځکه چې داسلام منونکي دې ته حاجتمند دي.

۴-'خوارۀ حمدونه ' ۱۷ په سرپاڼه ورکړے شوے د' درې سوه شپږو شپېتوشاعرانو فهرست' دکلامونو نمونې دي. تړون ئې دسيداحمد شهيد بريلوي په نوم ددې لفظونو سره شوے چې :'داسلام په تنګ ئې دصحابه ؤ ياد تازه کړو'. دافهرست په الفبائي ترتيب سره دابراهيم دنوم نه شروع کيږي اوديونس په نوم سرته رسي.دقديمو او دهغه وخت دشاعرانو کلامونه لري.انتساب داښائي چې فقير صاحب يو ګوشه نشين مصنف نۀ وۀ بلکه دمزاحمت اوحق دمرستې جذبه ئې لرله اوځکه ئې کتاب دهغه تحريك نوم ورکو اومعلوموسرخېلانو په نوم کړے دے چې داخاؤره ئې په خپلو وينو لړلې اورنګينه کړې وه.
ددې کتاب مقدمه کښې دوي ليکي چې:
'د الل□ پاک لاک□ لاک□ شکرونه دي چې دے کتاب سره زما دکتابونو تعداد درې سوه پنځلس ته ورسېدو.۱۸ مونږ مخکښې داخبر ليکلې ده چې ورکړے فهرست ددرې سووکتابونو نومونه نۀ ذکرکوي. خو اوس دوي ليکي چې درې سوه ديارلس پوره شونومونږ ددوي په وينا باور اواعتبار کوو.دغه تعداد اوشمېر شايد دغزوه بدر د مجاهدينو په خيال وي.
د کتاب په آخرکښې پروفېسر راج ولي شاه صاحب ليکي:
' فقير صاحب محمدعباس قادريه دپښتو اکېډيمۍ يو غړے دے ،پښتو ئې ژبه ده، نۀ پوهېږم چه داداکېډيمۍ دماحول اثر دے اوکۀ خپل رجحان ئې له اوله راسے دپښتو ادب يو مخصوص اړخ په لوردے.پښتو ادب ته کۀ مونږ اسلامي ادب اووايو نو هم په ځاے ده،اوکۀ په عامه اصطلاح کښې ورته مذهبيات اووايوهم'.۱۹زما په خيال دفقير صاحب رجحان له اول نه داسې وۀ.
آخر کښې پکښې د' کتابيات'ترعنوانه،ديوسل شپږ ځلوېښت(۱۴۲ )کتابونو نه داستفادې کولو تفصيلات دي. ددرې سوه پينځۀ اويا مخونوداکتاب داشاعت کال نۀ لري .خو مولف دمرحوم شاعرغازي سيال له لوري رالېږلي شوي د۱۲ نومبر ۱۹۷۹ ع يو خط دې کتاب کښې شاملوي. ۲۰چې مونږ ته ترې داشاعت کال ترپوحده معلومېږي.
۵-دحضرت مولانا مفتي کفايت الله دسلسله 'تعليم الاسلام' کتاب پښتو ترجمه۲۱ کښې دوي تړون د'حضرت مولانا شاه محمد الياس دهلوي' په نوم کوي.په اول کښې يو نعت شريف له رحيم داد بابا چې ددوي په خيال داخون درويزه بابا دکورنۍ يو صوفي

شاعر دے،راؤړي.بیا دجناب ابوبکر صدیق رضي الله عنه په شان کښې د کاظم خان شیدا لیکلې یو منقبت نقل کوي. داکتاب څلوربرخې لري.
پښتوترجمه کښې دوي خپله مقامي لهجه پکاروي لکه تعلیم الاسلام کښې لیکي: '..اول مسواك اینزل پکار دي. اوآخر کښې ئې داستعمال نه پس اینزل پکاردي'۲۲ .اوس د'وینځلو 'په ځاے د'اینزل یا مینزل 'توري راؤړل تړډېره حده اشنغراوګېرچاپېره علاقو سره خاص دے.اوداښائي چې ترجمه کښې دوي دځۀ تصنع نه کارنۀ دے اخستے بلکه داکوشش ئې کړے دے چې اولس ته هم داولس په ژبه خبرې وکړي.
۶- د'تعلیم الاسلام' څلورمه حصه چې په وړومبي ځل د جون میاشت کښې کال نول سوه دوه اویایم( ۱۹۷۲ ع) کښې شائع ده اوهم دغه پورته ذکر کتاب کښې شامله ده دوي ئې تړون د'آزاد سکول په یاد کښې' دیو لفظونو سره کوي: ' چې دقام بچو ته به ئې ددین اسلام ،ملك قام اوژبې دخدمت کولو تربیت ورکؤلو'.۲۳
دوي چونکه خپله هلته یو زده کونکے پاتے وۀ نو دغه انتساب ئې د'آزادو سکولونو 'پس منظر اومقصد هم په ګوته کوي. چې داسلام،قام،اوژبې'دخدمت خبره کوي یعني دامحض یو محدود اولنډ تنګ تعلیمي نظام نۀ وۀ بلکه دغه ټول دیني ،سماجي عناصراومقاصد ئې خپل مرام کښې لرل.
۷-دحضرت شاه ولي الله د'حجة الله البالغه' پښتو ترجمه ۲۴ په اول کښې دوي د حجة الله البالغه دمصنف شاه ولي الله باره کښې دیباچه لیکي دکتاب متعلق دمولنا سید ابوالحسن علي ندوي ،محمد منظورنعماني،اوعلامه مودودي اراء نقل کوي.اوبیا اقتباسات رانقل کوي.دشاه صاحب دژوند حالات ،اودتصنیفاتو لنډه پېژندګلو ئې کوي.دکتابونو شمېر ئې څلورپنځوس ذکرکوي.دهغوي دشاګردانوتفصیلات،اودمحترم شاه صاحب خوي خصلت ذکرکوي .په آخر کښې داستفادي شپږ کتابونه ذکرکوي.
ترجمه ئې ساده ده او روانه ده خودترجمې اثر،اودشاه صاحب دعلمیت انداز اوقدقامت هم پکښې ښکاري. خداے بخښلے ژبپوه اومحقق سیدعظیم شاه خیال بخاري دکتاب په آخر کښې'تبصره په حجة الله البالغه'ترعنوانه ددې ترجمې ستائنه کوي۲۵.داکتاب په 'دیارلسم باب دجزااوسزا اسباب' باندې سرته رسي. هم ددې کتاب شپږم اواوم بحث ۲۲ اشاعت نېټه ئې د دسمبرمیاشت کال نولس سوه درې اویایم( ۱۹۷۳ ع ) دے. دا برخه هم ددې هغه مقدمه لري کومه چې دنوروبرخو په اول کښې لیکلې شوې ده.په دې برخه داسلامیه کالج پېښور

خدا ے بخښلے مولانا احسان الدین په ۱۲ جون کال نولس سوه درې اویایم( ۱۹۷۳ ء) کښې تبصره کوي اوددوي ترجمه' روانه اوساده' ۲۷ګڼي.یقیني نهٔ ښکاري چې دوي به دحجة الله البالغه ټوله ترجمه کړي وي اوکهٔ څهٔ برخې به پکښې پاتې وي.

۸-نیك عمل:۲۸ دوه سوه دوه نوي مخونه لرونکے داکتاب دحضور پاك علیه السلام،سلیمان اوعیسی علیهم السلام په شمول قریباً دشپږو څلوېښتو شخصیاتو وېناګانې لري.دشخصیاتو په اقوالو،او دزرتشت په عقائدو دا لیکونه سرته رسي اونور نهٔ ویشت عنوانات لري. دڅوارلسو کتابونو نه اکتساب کوي.دا وېناګانې هم ښکاره ده چې ترجمه شوي دي.

۹-اسماء الحسنیٰ:۲۹مولف،مرتب اومترجم محمد عباس قادریه څلورسوه مخونه لرونکےداکتاب دوه سوه یونوي مخونه لري اوپه اخرکښې دمؤلف دکتابونو فهرست د ے.دشپاړسو کتابونو نه استفاده ذکرکوي.اول دعلي خان بابا حمد راؤړي اوبیا پښتو کښې د څلوېښت حدیثونو ترجمه ذکرکوي. ژبه ئې ساده اوروانه ده .داسمائې حسنیٰ په علمي حیثیتونو خبرې کوي اوفضائل ئې بیانوي.

۱۰-تذکرة الاولیاء۳۰(الف):دفارسۍ د صوفي شاعرشیخ فریدالدین عطارنیشاپوري ددې کتاب پښتو ترجمه کښې فقیر محمد عباس قادریه داتهٔ نوي بزرګانو حالات بیانوي. اصلي فارسي نسخه ۳۰(ب)کښې اووهٔ نوي بزرګانو دحالاتو ذکر د ے. دامام جعفر صادق نه شروع کېږي او دا مام محمد باقر په حالاتو دغه تذکره سرته رسي. اود' مقدمه انتقادي در شرح احوال شیخ عطار' تر عنوانه د میرزا محمد بن عبدالوهاب قزویني'طویله مقدمه لري.د دوي دا ترجمه اصل متن سره تقابل غواړي.ځکه اصلي فارسي نسخه د خپلو فهرستونو سره نهٔ سوه یو څلوېښت مخونه لري. دکتاب په آخر کښې دپروفېسر پرېشان خټك تبصره شامله ده. داکتاب دحکایت اوقصې په انداز کښې لیکلے شو ے د ے. حوالې ،سندونه او د اشاعت کال نهٔ لري.په مجموعي توګه په کتاب دعقیدت رنګ خورد ے.خودتصوف دشیوخو کتابونه اکثر یو خپل منفرد اثر لري اګرکهٔ ترجمه کوونکے ترې ځان ډېر وژغوري خو بیا هم هغه لیدے شي.اصلي فارسي کتاب مکالماتي رنګ لري.

۱۱-'شمائل ترمذي '۳۱'پښتو ژبه کښې دحضور صلی الله علیه وآله وسلم پاك خوي خصلت دشیخ الحدیث مولانا محمد زکریا اردو ترجمې پښتو ترجمه ده.داشاعت کال نهٔ لرونکي دې کتاب دعربۍ ژبې اصلي متن ته مخامخ پښتوترجمه ده.دحدیث دراویانو پوره سلسله نهٔ

ليکي اوصرف دآخري راوي نوم ذکرکوي.شايد دا د اسانتيا راؤړولو يااختصار دپاره کوي.په دوه سوه اتۀ ځلوپښتو مخونومشتمل کتاب دهغه وخت داوقاف دمحکمې کمشنر قاضي نورالحق ندوي الازهري خپله تبصره کښې ددوي دکتابونو ذکر څۀ 'دپاسه درې زره کوي '۳۲'چې صحيح نۀ ښکاري .

۱۲-'آلاتِ جديده'۳۳' پښتو ژبه کښې د'نوي آلاتو شرعي احکام' په عنوان فقير محمد عباس قادريه د مولانا محمد شفيع صاحب ددې کتاب پښتوترجمه کوي اودکتاب مقدمه کښې دخپلو کتابونو ذکر' درې زره 'کوي. شايد تسامح وي .دوه سوه دوه اويا مخونه لرونکےداکتاب داشاعت کال نۀ لري.خو په يولسم مخ دکتاب کاتب دکتابت داختتام نېټه ۳ جنوري( ۱۹۹۴ع) ليکي. نو مونږ قياس کؤلے شوچې هم دغه خواوشا وختونو کښې به ئې دغه کتاب ترجمه کړي وي.

داسې کتابونه په اردو کښې هم ليکلے شوي دي اوکله چې دنويو آلاتواستعمال خبره مخې ته راغله اوفتوې پرې غوښتلې،اوجاري شوې نو دخاصوخلقو رسائي خو ورته وه خو عام اولس ترې ناخبره وۀ. داسې کتابونه عامو لوستونکيو دبازارنه ترلاسه کؤل. ځکه نودعلم دخدمت سره دغه خبره هم دمولف وناشر متعلق ذهن کښې ساتل پکار دي.

۱۳-تعويذاتِ سليماني:۳۴پښتو ترجمه کښې فقير محمد عباس قادريه مقدمه کښې ليکي چې:

'ددے کتاب دتعويذاتو اوعملياتو په حقله ګرانو لوستونکو اوعاملانو ته خواست دے چې ددے ناجائز استعمال اونۀ کړي. ګني خپله به بُدري بياموميٖ۳۵' دې کتاب کښې دوي داووۀ دېرشو کتابونو نه استفاده کوي.خو دننه په بره ګټ ' حرزسليماني' ليکلے شوے دے.په يوسل ځلوراتيا مخونو مشتمل داکتاب په آخر کښې دخوبونو دتعبير متعلق بحثونه،په خوبونوکښې ليدونکي ځيزونه اودهغو تعبير لري.

دجناب سليمان عليه السلام په زمانه کښې سِحر اوجادو عام وۀ خو هغوي ته دتعويذاتو اوعملياتو نسبت کول يو قسم مناسب نۀ ښکاري.

۱۴-روحاني علاج اوخپراًکثيراً: ۳۶دلته هم مقدمه کښې دوي 'مصنف مولف مترجم مرتب 'تين هزارکتب'۳۷ ليکي. داکتاب يو سل دوه نوي مخونه لري .

۱۵-علمي ګلونه :۳۸دعلم اوعمل ښکلي خزانې 'مصنف ئې جمال الدين ابن الجوزي دے مقدمه اوتعارف پرې مولنا سيد ابوالحسن علي ندوي ليکي.پښتو ترجمه ئې فقير محمد عبا

س صاحب کړې ده خو داشاعت کال نهٔ لري.دمترجم مقدمه اوحضرت علامه ابن الجوزي دحالاتو نه علاوه داکتاب درې سوه پينځهٔ شپېتهٔ عنوانات لري په زيړ کاغذ شائع داکتاب په اتهٔ سوه شپږ ومخونو مشتمل دے.

۱۶-کرامات اولياء :۳۹دمصنف امام عبدالله يافعي يمني دکتاب اردو ترجمه مولانا جعفر علي نګينوي او پښتو ترجمه فقير محمد عباس کړې ده دوي دکتاب په آخرکښې لس ماخذات اومصادر ذکرکوي.

۱۷-'دبزرګانواقوال'۴۰فقيرمحمد عباس قادريه دمقدمې اوخدائے تعالیٰ داحکامو نه علاوه داکتاب داتهٔ پنځوسو مسلمانانو اوغېرمسلمو اقوال لري. په اخر کښې 'تصوف څهٔ ته وائي 'ترعنوانه دمختلفو بزرګانو اقوال رانقل کوي.په دې کتاب دهغه وخت داسلاميه کالجيټ سکول، پېښور،پرنسپل روح الامين ددوي' پښتو او مذهب سره دمينې ستائنه۴۱ 'کوي.کتاب دوه سوه نههٔ ويشت(۲۲۹)مخونه لري.په اقوالو اووېناګانو کښې تنوع اوتوسع دے.اود'پوهې دمسلمان دورك حکمت'په مصداق دوي دکارخبرې له هرچا دخولې راغونډې کړې دي.

۱۸-کتاب المغازي:۴۲ 'دنبي اکرم غزاګانې' کتاب داشاعت کال نهٔ لري. خو دوي فقير صاحب پرې لنډه مقدمه په يکم فروري ۱۹۸۳ ع ليکي.داکتاب په اول کښې درې سوه پينځهٔ شپېته اقوال لري.اوبيا دجنګ عشيره يا عسيره حديث ذکر کوي.دعربۍ ژبې متن نهٔ لري او صرف روانه پښتو ترجمه ده.متن سره ئې مقابله لازمه ښکاري داپه حديث نمبر ۱۵۹۰ سرته رسي.اخر کښې پروفېسرمولانا احسان الدين ددوي ددې' کتاب ستائنه کوي'۴۳ داکتاب دوه سوه درې ويشت (۲۲۳) مخونه لري.

۱۹-دحضرت مولانا سيد محمد ميا  دسلسله 'تاريخ الاسلام '۴۴ دوي د'مقدمه دمترجم' ترعنوانه د کتاب اوترجمې متعلق خبرې کوي.دوېمه اودرېمه حصې هم دې کتاب کښې شاملې دي سوالاً جواباً انداز هم لري. او د دې خوبي داده چې دطويل بحث نه ځان ژغوري اومتعلقه هدفونو اوبحثونو ته ځان محدود ساتي.داکتاب دمستوراتو ځنو تعليمي اودرسي نصابونو کښې هم شامل پاتے دے.

۲۰-'کتاب الصلوۃ' ۴۵پښتو ژبه کښې دامام احمد بن حنبل دژوند اوتحصيلاتو اوشاګردانو باره کښې دوي مختصرې خبرې ليکي. په آخرکښې يوه مکالمه اودپروفېسر

احسان الدین تبصره لري. موصوف پروفېسر د خپلې حېرانتیا اظهار کوي چې 'په ایکې سر دوي دادومره لوے کارڅنګه وکړلو'۴۶ په دې کتاب مونږ پورته هم څۀ خبرې کړې دي.
۲۱-'دصحابه ؤکرامات '۴۷دفقیرمحمد عباس قادریه صاحب داتالیف دڅلوروڅلوېښتو صحابه رضي الله عنهم اوصحابیاتورضي الله عنهن دکراماتو ذکر کوي. په آخر کښې یوه مکالمه ده اوپروفېسر ارباب محمد یعقوب خان په دې کتاب خپلوخبروکښې دوي' بختور ګڼي چې ورله الله ددغسې کتابونو دلیکلو توفیق ورکړے دے '.علامه صاحب ددې بحثونودهربیان په اخر کښې دماخذ ذکر کوي.داکتاب اتۀ اتیا مخونه لري .انداز ئې دقصه ګوئۍ اندازلري.
دخدا ے بخښلي محمد اشرف غمګین تالیف 'دهشنغرادب'۴۸چې داشنغرداتیا ښځو اوسړیو شاعرانو دژوند حالات اودکلامونو نمونې لري دفقیرمحمد عباس ذکر نۀ لري.شاید هغوي صرف شعراوادب سره تړلي شخصیات په نظر کښې ساتلي وۀ.
۲۲-ګنجینه اسرار:۴۹ دجناب مولانا انورشاه کشمیري دغه کتاب فقیر محمد عباس قادریه صاحب پښتو کښې ترجمه کړے دےاو د'مقدمه دپښتو مترجم' ترعنوانه لنډه مقدمه کښې دکتاب په ترجمه کؤلو د'الله پاك شكر وباسي اولیکي چې: 'مصنف څۀ دپاسه څلورنیم زرو معیاري اسلامي کتابونومولف ،مترجم اومصنف دے.' داکتاب دمولانا سید انظرشاه مرحوم له قلمه د'نقاب کشائي 'ترعنوانه دکتاب اودکتاب دمشمولاتو باره کښې جامع بحث لري.د'حکایت حال' ترعنوانه مظفرالحسن القاسمي هم دکتاب متعلق خپل خیالات قلم ته سپاري. فقیر صاحب دې کتاب کښې ددعاګانو نه علاوه درنځونودپاره اعمال هم تجویز کوي اوپه آخر کښې فضائل قرآن ، فضائل قصیده برده اوفضائل حزب البحرپه اجمالي توګه نقل کوي کتاب ټول یوسل څلورشپېتۀ ( ۱۶۴ )مخونه لري.
۲۳-دخدا ے نیازبین ۵۰–دسلسله قادریه،خواجګان،چشتیه،کبرویه اوسهروردیه دبزرګانو حالات، مؤلف د مقدمې نه علاوه درحمان بابا شپاړس غزلونه دکتاب برخه جوړوي.دشپږو بزرګانو حالات لیکي، بیا دسلسه قادریه داووه،دسلسله شریفه خواجګان شپږ،دسلسله شریفه چشتیه دیارلس، دسلسله کبرویه دڅلورو او د سهروردیه شپږو بزرګانو حالات قلم ته سپاري .په آخر کښې پرې حاجي شمس الدین خان مفلس دمۍ په شپږمه کال نولس سوه څلوراتیا(۱۹۸۴ع) کښې منظومه تبصره لیکي۵۱. داتۀ ویشتو کتابونو ماخذات زیات تر د

تصوف اوددوي ترجمه شوي کتابونه دي.کتاب ټول سل مخونه لري.دمختلفو تصوفي سلسلو ضمن کښې داکتاب بنيادي معلومات مخې ته راوړي.

۲۴-تصوف' ۵۲اګرکۀ کتاب داشاعت کال نۀ لري خودوي دتړون اوانتساب په صفحه نېټه' ۱۲ اکتوبر ۱۹۷۹ع' ليکي. په اول کښې دوي خپل نعت ،بيا لنډه مقدمه ،بيا پښتو کښې څلوېښت حديثونه ،بيا نعت، اوبيا دې پسې دکتاب متن شروع کيږي. په آخر کښې دطريقه قادريه عباسيه اجازت ورکوي .نېك اعمالو باندې مداومت تجويز کوي اودکلمه طيبه ورد تجويز کوي .په اخر کښې سرفراز خان مروت اوپروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټك د 'عقيدت نامې' ۵۳ترعنوانه يو نظم ليکي .درې سوه اوويشت(۳۲۷ )مخونه لرونکے داکتاب په اخر کښې د شپږودېرشو(۳۲) کتابونو ماخذاتو تفصيلات لري.د'قادريه عباسيه'طريقې اجازت دابنائي چې دوي عملي صوفي وۀ،اوخپلو ارادتمندو اوعقيدتمندو ته ئې خپله سلسله هم جاري کړې وه.اګر کۀ دوي خپله په مبينه توګه دحاجي صاحب ترنګزو نه قادريه سلسله کښې لاس نيوه کړې وه.

۲۵-مظاهرحق شرح مشکو□:۵۴ داشاعت کال نۀ لرونکے داکتاب دفقيرصاحب دمقدمې آخر کښې د' ۲۵ نومبر ۲۰۰۳ ع کال'نېټه لري. بابونو کښې بيل بيل عنوانات ليکي.دکتاب په اول کښې دکاظم خان شېدا حمد وثنا او نعت شريف، او'مقدمه دمترجم' کښې دوي خلپل کتابونه څۀ دپاسه څلور زره ذکرکوي.داکتاب په نهۀ سوه څلورڅلوېښت(۹۴۴ )مخونو مشتمل دے. دتفصيل اوتشريح دوران کښې دوي دحديث متن هم راوړي.

۲۶-کراماتِ اولياء:۵۵ د قطب مدينه حضرت امام عبدالله يافعي يمني دکتاب پښتو ترجمه فقير محمد عباس قادريه داردو ترجمې مترجم حضرت مولانا جعفر علي نګينوي دنسخې نه کړې ده.انتخاب اوتسهيل ئې مولانا امدادالله انورکړے دے.او په وړومبي ځل کال دوه زره يو( ۲۰۰۱ع) کښې شائع دے. په اول کښې لس ماخذات ذکرکوي. دوي دابن ماجه د پښتو ترجمې ذکر هم کوي .کتاب څلورسوه اتۀ اتيا( ۴۸۸ )مخونه لري .ژبه ئې د معمول مطابق روانه اوساده ده.او انداز ئې عاميانه اوتدريسي دے.

۲۷-'حياة الحيوان ۵۶:د علامه کمال الدين الدميري ددې کتاب 'پښتو ترجمه پروفېسر(؟) فقير محمد عباس قادريه په درېو جلدونه کښې کړې ده.دپښتواکېډيمۍ کتب خانې ته دخدا ے بخښلي مترجم دستخط اولاس ليك سره په '۲۲ مئی کال ۲۰۰۴ع' کښې ډالۍ شوے دے.دچاپ کال ئې دوه زره درېم(۲۰۰۳ع)دے. دترجمې ژبه ئې روانه اوساده ده او

دوي پکښې دعربۍ دشعرونو پښتو منظومه ترجمه هم کوي. دوېم جلدائۀ سوه نولس( ۸۱۹ )مخونه لري اودابوزياد په ذکر سرته رسي.

۲۹-'اسان تفسير القرآن '۵۷مترجم اومفسر علامه فقير محمد عباس قادريه.دتفسير دضابطې پاڼه دوېم مخ کښې دخپلو کتابونو ذکر پيښځۀ زره پيځلس کوي.په اول کښې د'علامه فقير محمد عباس قادريه(تعارف او خدمات) کښې زېږون يکم اګست ۱۹۲۴ع اووفات ۷ مئي ۲۰۱۵ع ليکي.' چې په صحاح سته کښې ئې دصحيح بخاري شريف،صحيح مسلم شريف،جامع ترمذي،سنن ابن ماجه،سنن نسائي،مشکوة شريف،موطا امام مالك، ترجمې کړي دي.دې تفسير کښې دوي دشپږو تفسيرونو نه استفاده ذکرکوي. قرآن مجيد مترجم دمولانامحمود حسن،مخزن التفاسير دمولانا محمد الياس،کشاف القران دحافظ محمد ادريس،تفسير ودودي دمولانا فضل ودود،موضح القران دشېخ الهند مولانا محمود حسن،اوتفسير عثماني دعلامه شبير احمد عثماني-دقرآن ترجمه ئې ډېره رواني لري.اوداولس ژبه پکاروي. لکه د'يخٰدعون' معني 'تېرباسل' کوي د'شيٰطينِهم 'معنی 'شريان پساتيان' کوي،د'يعمهون 'معنی 'سروهلے بروهلے' کوي، د'ربيون' معنی' خدائي خدمتګار' کوي ۵۸ . ځاے په ځاے تشريحات لري. وړومبے جلدپه پينځلسمه پاره سرته رسي اووۀ سوه شپږ پنځوس( ۷۵۰) مخونه لري.

۳۰-'خکلي نعتونه'،۵۹فقير محمد عباس قادريه دې کتاب کښې دشپږ نيمو شلو( ۱۳۰ )شاعرانو نعتونه نقل کوي.اوشايد په نعتونو کښې به مونږ سره داسې مجموعه نۀ وي چې دګڼو شاعرانو نعتونه پکښې نقل شوي وي. په اخر کښې تعويذات،دتاليفاتو فهرست اودلوستونکيو له لوري رالېږلي شوي څو خطونه هم لري .يو سل شپږ اويا مخونه لري.

محقق اوادیب ډاکټر مصطفی کمال دخپلې پي ايچ ډي تحقيقي مقاله ' دهشتنغرخاوره،خلق اوادب'کښې دفقير محمد عباس قادريه دژوند اوفن متعلق داسې ليکي:

'فقيرمحمد عباس قادريه (۱۹۲۴ع-۲۰۱۵ع)دهشتنغردرځږو کلي هغه نثر نګار دے چې په خپلو پينځو زرو نه زياتو تصنيفاتو ،تاليفاتواوترجمو ئې په ټوله دنيا کښې نړيوال رېکارډ جوړ کړو.دنورو اسلامي اواصلاحي کتابونو سره سره دې ښاغلي دقرآن شريف دپينځو نه زيات تفسيرونه اوصحاحِ سته يعني پېغمبر پاك داحاديثو شپږ واړه مشهورکتابونه بخاري شريف،مسلم شريف،ابن ماجه،ابن داؤد ،موطاء امام مالك، اوترمذي شريف په اسانه اوروانه

پښتو کښې راترجمه کړي دي.دغسې چاهم په هشتنغر په اسلامي اواصلاحي نثر قلم پورته کړے دے نو عموماًئې دعامو خلقو دلوستول دپاره زيات نه زيات اسان کړے دے'۲۰

د ډاکټر مصطفی کمال د' پينځو زرو نه زياتو تصنيفاتو،تاليفاتو او ترجمو' د قول سره اتفاق کول پاخهٔ او مستند دليلونه غواړي.

ددوي مشرزوي محمد طيب سره ماسره دخبرو دوران کښې ووئيل 'والدصاحب موډېرښهٔ انسان وهٔ.خپلو علمي کارونو اومصروفياتو ته ئې ځان سپارلے وهٔ اوددنيا په کارونو ئې غرض نهٔ لرلو.ټول کارونه ئې دوي ته حواله کړي وهٔ.ديوې پوښتنې په ځواب کښې دوي وائي چې والد صاحب به ئې دناشرانو نه صرف دکاغذ پېسې اخستې اودليکلوپه دغه کارونو پېسې اخستل به علامه صاحب حرام ګڼل'.۲۱

داعجيبه ده چې دوي څومره تاليفات،ترجمې اوتصنيفات کړي دي انساني بساط کښې دومره ممکن نهٔ ښکاري. دوي دخپل دور،بلکه دروان اوپخواني دورهم،يوکثيرالتصانيف مصنف،مترجم اومؤلف دے .ددوي دتصنيفاتو اوتاليفاتو ترټولواهم خصوصيت دفقه،حديث، تفسير ،سوانحي اوتذکره نګاری ،روحاني ادب،تشريح کؤل ،اسانؤل اوپښتو کول دي چې دا ئې په پښتو ژبه اوپښتنو لوے احسان دے.بايد چې څوك پېدا شي اوپښتو ادب له نور دومره کاروکړي.

په مجموعي توګه ددوي ترجمې،تاليفات اوتصنيفات هغه دي چې کهٔ يو اړخ ته ددوي علمي اوتصنيفي تنده پرې ماتېده،دوي ته پرې يوه ذهني اوروحاني تشفي اواطمينان هم ترلاسه کېدلو اوپه پوره يکسوئی سره دوي بغېر دساه اخستلو اودمه کولو دغه فرض سرته رسؤلو نو بل اړخ په دغه موضوعاتو ددوي ترجمې اوتاليفات دهغه وخت دناشرانو ضرورت هم وهٔ.هغوي له يو داسې عبقري علمي اوادبي شخصيت پکار وهٔ،چې دهغوي دغه ضرورت به ئې زرزرپوره کؤلو اوهغوي به پرې خپلې تجارتي ګټې هم ترلاسه کؤلې.

په دوي اوددوي په تصنيفاتو تر اوسه ډېر کم تحقيق شوے دے. حال دا دے چې دوي دډېرڅهٔ حق لري اوپکارداده چې ددوي دکارونو علمي اوتحقيقي جاج واخستے شي اوپه لسانياتي توګه ددوي دکارونو جائزه واخستې شي...

په موضوعاتي اومجموعي توګه ددوي تاليفات ،تراجم اوتصنيفات زيات ترپه ديني ،روحاني،ادبي ،سوانحي ،تاريخي ،تصوفي اوفقهي اړخونو بنا دي.نوکله کله پکښې تکرار راشي،اوکله کله سطحيت غوندې هم،کله دمتن حاصله ترجمه کوي چې دمصنف مقصد

پکښې دابهام سره مخ شي. خو چې دوي ئې کوم مطلب واخلي په خپلو ټکو کښې ئې لوستونکیو ته منتقل کړي .کله کله دبې ځایه طوالت ښکارشي.خودې هرڅۀ سره مونږ له داهم نظر کښې ساتل پکاردي چې ددوي زیاتې ترجمې له اردو څخه دي.اواردو مترجمینو هم ترجمه کولو فني محاسن شایدکم په نظر کښې ساتلي دي.بهرحال ددوي دغه سترې په هرلحاظ دستائنې وړ دي.اوډپښتو په نثر ادب کښې یو ګټوره اضافه ده.الله تعالی دهغوي لغزشونه معاف کړي اودغه نېك عملونه دې دهغوي دنجات ذریعه وګرځوي (آمین).

اخذاواکتساب:
۱-کاکاخېل،میا،ثناءا لدین (مشموله)تعلیم الاسلام دمفتي کفایت الله، ،پښتوترجمه: فقیرمحمد عباس قادریه، ۱۹۷۰ع ،مخ ۱۲۹ تا۱۷۴
۲-پښتو اکېډیمۍ کښې موجوده لیکنه /دستاویزچې داکېډیمۍ دمهرسره د ۱۰-۳-۲۰۲۱ نېټه لري
۳-هم دغه دستاویز
۴-هم دغه دستاویز
۵-مفتي ،کفایت الله،تعلیم الاسلام -څلورمه برخه ،پښتو ترجمه، فقیرمحمد عباس قادریه، مکتبه دینیات، قصه خواني پېښور ښار، صوبه سرحد، سلطانه پرېس لاهور، جون ۱۹۷۲ع،مخ۱۵ ، ۱۶
۶- محمد سهېل،(ډاکټر)،'تاریخ چارسده'،مفکوره ریسرچ اینډ ډوېلپمنټ سنټر،پشاور،جنوري ۲۰۲۲ع ،مخ ۲۴۸، ۲۴۷
۷-دغه پورته دستاویز
۸- قادریه،فقیرمحمدعباس،خواږۀ حمدونه،رحمان ګل پبلشرز، ډهکي نعلبندي ،قصه خواني، پشاور،
۹-پرهېزګارې بیبیانې ،فقیر محمد عباس قادریه
۱۰- قادریه،فقیرمحمد عباس،مسلمانې بیبیانې(مسلمانې بیبیانې ( تالیف )،رحمان ګل پبلشرز (ډهکي نعلبندي)،قصه خواني پشاور ، افضال پرنټرز لاهور، وړومبے ځل ۲۵ ستمبر ۱۹۷۷ع
۱۱-هم داکتاب
۱۲- پرهېزګارې بیبیانې، فقیر محمد عباس قادریه
۱۳-امام،ابن حنبل،احمد'کتاب الصلوة '(پښتو ژبه کښې) فقیر محمد عباس قادریه، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، حاجي فضل احد اینډسنز تاجران کتب ،قصه خوانۍ بازار، پېښور، کال ۱۹۷۸ع

۱۴-الامام، ابن حنبل، احمد ،رساله الصلوة، لجنة الشباب المسلم، http://maktbah.net
۱۵-ایضاً
۱۲-ایضاً، مخ ۵۸
۱۷- قادریه، فقیرمحمد عباس، خوارهٔ حمدونه، رحمان ګل پبلشرز، ډهکي نعلبندي ،قصه خواني ،پشاور
۱۸-هم دا کتاب، مخ ۲۴
۱۹-هم دا کتاب
۲۰-هم دا کتاب
۲۱-مفتي کفایت الله ،تعلیم الاسلام، پښتو ترجمه، فقیرمحمد عباس قادریه ،مکتبه دینیات، قصه خواني پېښور ښار، صوبه سرحد ،سلطانه پرېس لاهور، جون ۱۹۷۲ع
۲۲-هم دا کتاب، ۴۷مخ
۲۳- دمفتي کفایت الله 'تعلیم الاسلام' څلورمه حصه ، وړومبي ځل اشاعت د جون میاشت کښې کال نول سوه دوه اویا یم( ۱۹۷۲ ع)
۲۴- حضرت شاه ولي الله د 'حجة الله البالغه' پښتو ترجمه فقیر محمد عباس قادریه، پبلشر ادارهٔ فروغِ تعلیم ،پشاور صدر، منظور عام پرېس، وړومبي ځل ۱۳۷۸ □/۱۹۲۷ ع.
۲۵- هم دا کتاب
۲۲- شاه ولي الله، حجة الله البالغه، شپږم اواووم بحث، پښتو ترجمه، فقیرمحمد عباس قادریه، حاجي فقیر محمد اینډ سنز تاجران کتب ،نوراني کتب خانه بازار، قصه خواني پشاور، دسمبر( ۱۹۷۳ ع ) .
۲۷-هم دا کتاب
۲۸- نیك عمل ،منظور عام پرېس یونیورستي بك ایجنسي ،خیبر بازار پېښور ،جنوري ۱۹۲۸ع
۲۹- اسماء الحسنیٰ، مولف، مرتب اومترجم محمد عباس قادریه ، حمیدیه پرېس پېښور ،پبلشر، اسلامي کتب خانه قصه ،خواني بازار، پېښور ښار، وړومبې ځل ۱۹۲۸ع،
۳۰(الف)-شیخ، عطار، فریدالدین، تذکرة الاولیا، پښتو ترجمه فقیر محمد عباس قادریه ، زیب آرټ پبلشرز ،محله جنګي پېښور، داشاعت کال نهٔ لري
۳۰-(ب)-نیشاپوري، عطار شیخ ابي حامد حمد بن ابي بکر ابراهیم فریدالدین، تذکرة الاولیاء، انتشارات بهزاد ،تهران، چهاپ چهارم ۱۳۷۵
۳۱-شمائل ترمذي، دشیخ الحدیث محمد زکریا داردوکتاب، پښتو ترجمه ،فقیرمحمد عباس قادریه، داشاعت کال نهٔ لري

۳۲-هم داکتاب
۳۳-مولانا ،محمد شفیع ،آلاتِ جدیده ،پښتو ترجمه فقیر محمد عباس قادریه، زیب آرټ پبلشرز ،محله جنګي پېښور ښار
۳۴- قادریه،فقیر،محمد عباس ،تعویذاتِ سلېماني پښتو ترجمه ، زیب ارټ پبلشرز محله جنګي پېښور، جولائي ۱۹۹۲ع
۳۵-هم داکتاب
۳۶-قادریه،فقیر،محمد عباس،روحاني علاج اوخپراګشیراً، زیب ارټ پبلشرز محله جنګ پېښور داشاعت کال فروري ۱۹۹۱ع،فروري ۲۰۱۴ع
۳۷-هم داکتاب. مخ ۲۱
۳۸- ندوي،ابوالحسن علي، علمي ګلونه :دعلم اوعمل ښکلې خزانې، ندوي، پښتو ترجمه پروفېسر ؟فقیر محمد عباس،وحیدي کتب خانه میونسپل پلازه، قصه خواني بازار، پشاور شهر داشاعت کال نهٔ لري
۳۹- مولانا ،نګینوي،جعفرعلي'کرامات اولیاء'پښتو ترجمه ،فقیر محمد عباس قادریه ، مکتبه روضة القران والعلوم الاسلامیه، محله جنګي پېښور، ا شاعت په وړومبي ځل کال ۲۰۰۱ع
۴۰-قادریه،فقیر،محمد عباس،'دبزرګانواقوال' تاج محل کمپني ډهکي منورشاه،قصه خواني بازار، پېښور فالکن پرېس، سلسله مطبوعات ۵۹۰، فقیر محمد عباس قادریه اکېډیمي، وړومبے ځل ۱۹۸۵،ع
۴۱-هم داکتاب
۴۲- کتاب المغازي، 'دنبي اکرم ص غزاګانې 'پښتوترجمه فقیر محمد عباس قادریه،رحمان ګل پبلشرز، ډهکي نعلبندي ،قصه خواني پشاور،داشاعت کال نهٔ لري
۴۳-هم داکتاب
۴۴- مولانا، سید. محمد میان ،دسلسله 'تاریخ الاسلام 'پښتو ترجمه فقیرمحمد عباس قادریه،اسلامي کتب خانه ،قصه خواني پېښور .اول ځل ۲۳مارچ ۱۹۸۲ع
۴۵-امام،ابن حنبل،احمد'کتاب الصلوة'پښتو ترجمه فقیر محمد عباس قادریه، حاجي فضل احد اېنډ سنز تاجرانِ کتب ،قصه خواني بازار، پشاور شهر کال ۱۹۷۸ع
۴۶-هم داکتاب
۴۷- قادریه،فقیر،محمد عباس' دصحابه ؤکرامات،(تالیف)حاجي فضل احد اېنډ سنز تاجران کتب ،قصه خواني پشاور
۴۸-غمګین،اشرف، دهشنغرادب ( تالیف)،هشنغر پښتو ادبي ټولنه (چارسده)،فروري ۱۹۸۰ع

۴۹- کشميري،انورشاه(مولانا)، 'گنجينه اسرار' ( تاليف) پښتو ترجمه ،فقير محمد عباس قادريه ،نظرثاني قاري فضل کريم عارف ،زېب آرټ پبلشرز ،محله جنګي، پېښوربنار، جون ۲۰۰۸ع
۵۰- قادريه،فقير،محمد عباس' دخدا ے نيازبين'، ،تاج محل کمپني( مينجر محمد وسيم)،ډهکي منورشاه ،قصه خواني بازار،پشاور، وړومبے ځل ۱۹۸۴ع
۵۱-هم داکتاب
۵۲- قادريه،فقير،محمد عباس' تصوف'رحمان ګل پبلشرز، ډهکي نعلبندي، قصه خواني، پشاور
۵۳-هم دغه کتاب
۵۴- دهلوي،علامه نواب،محمد قطب الدين،مظاهرحق شرح مشکو، (تاليف) پښتوترجمه، پروفېسر ؟فقيرمحمد عباس، جلد نمبر ۱۰ ،وحيد ي کتب خانه، قصه خوانی، پېښور،داشاعت کال نهٔ لري.
۵۵-يمني،يافعي،امام عبدالله' قطب مدينه ' پښتو ترجمه: فقير محمد عباس قادريه، ناشر سيد اسلام الدين خاکسار ،مکتبه روضة القران ،قصه خواني، محله جنګي ،پېښور
۵۶-علامه،الدميري،کمال الدين'حياة الحيوان '(تاليف ) 'پښتو ترجمه پروفېسر؟ فقير محمد عباس قادريه، ناشر وحيد کتب خانه، قصه خواني ،پېښور
۵۷-'قادريه،علامه،فقيرمحمد ،اسان تفسير القرآن 'مترجم 'رحمان ګل پبلشرز، محله جنګي ،قصه خواني پېښور
۵۸-قرآن حکيم،هم داتفسير،سورة البقره،وړومبي ايتونه
۵۹-قادريه،فقير،محمد عباس'خکلي نعتونه'،رحمان ګل پبلشرز، ډهکي نعلبندي ،قصه خواني، پشاور، يکم نومبر ۱۹۷۷ع
۶۰- کمال،مصطفیٰ ،(ډاکټر)،هشتنغر:خاوره،خلق اوادب (دپي ايچ ډي تحقيقي مقاله- ناچاپه)،پښتو څانګه، پېښور پوهنتون،پېښور،کال ۲۰۱۷ ع، مخونه ۲۱۲،۲۱۱
۶۱-دخدا ے بخښلي فقيرمحمد عباس قادريه زوي محمد طيب سره په ټيلي فون زما خبرې ،دمارچ اتم تاريخ،کال دوه زره درويشتم

**References:**

1-Kakakhail,Mian Sana Ud Din,(Mashmoola) Taleem Ul Islam,Mufti Kefayatullah, Pokhto Tarjoma, Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,1970,Pages 169 to 174.
2- Pokhto Academai ke Majooda Leekan/dastaweez,Che da Academai da mohar sara 10 March,dwa zara yaweesht Tareekh laree.
3- Hum Dagha Dastaweez
4-Hum Dagha Dastaweez

5-Mufti,Kefayatullah,Taleem Ul Islam,Salorama Barkha,Pokhto Tarjuma,Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Maktaba Deenyat,Qissa Khwani,Pekahawar Khaar,Sooba Sarhad,Sultana Press,Lahore,June 1972,P.166-
6-Muhammad Suhail(Doctor),Tareekh Charsadda,Mafkoora Research& Development Centre,Peshawar,January,2022, Page-248-247
7- Dagha Porta Dastaweez
8-Qadeye ,Faqeer Muhamamd Abbas,Khwaaga Hamdoona,Rahman Gul Publishers,Dhakki Nalbandi,Qissa Khwani Peshawar
9-Faqeer Muhammad Abbas,Parhez Gaare Beebyaani
10-Qaderya,Faqeer Muhamamd Abbas,Musalmani Beebyaani,(Taleef,Rahman Gul Publishers,Dhakki Nalbandi,Qissa Khwani,Afzal Printers,Lahore,25December,1977
11-Ibid
12-Faqeer Muhammad Abbas,Perhezgaare Beebyaani
13-Ahmad,Ibn Hanbal(Imam),Kitab As Salat ( Pokhto Jhaba ke),Faqeer Muhmamad Abbas Qaderya,Pokhto Aacadem,University of Peshawar,Haji Fazal Ahad and Sons Tajeran Kotab,Qissa Khani Bazar,1978
14-Ahmad,Ibn Hanbal,(Al-Imam),Risala As Salat,Lujna Ash-Shabab-el Muslim, http://maktbah.net
15-Ibid
16-Ibdi,P 58
17- Qadeye ,Faqeer Muhamamd Abbas,Khwaaga Hamdoona,Rahman Gul Publishers,Dhakki Nalbandi,Qissa Khwani Peshawar
18-Ibid,P 24
19-Ibid
20-Ibid
21- Mufti,Kefayatullah,Taleem Ul Islam,Salorama Barkha,Pokhto Tarjuma,Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Maktaba Deenyat,Qissa Khwani,Pekahawar Khaar,Sooba Sarhad,Sultana Press,Lahore,June 1972.
22-Ibid,P 47
23- Mufti,Kefayatullah,Taleem Ul Islam,Salorama Barkha,Pokhto Tarjuma,Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Maktaba Deenyat,Qissa Khwani,Pekahawar Khaar,Sooba Sarhad,Sultana Press,Lahore,June 1972,4th Part
24-Hazrat Shah Waliullah,Hujjat Ullah-el Baleghah,Pokhto Tarjuma Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Edara Ferogh Taleem,Peshawar Sadar,Manzoor Aam Press,1378/1967
25-Ibid
26- Hazrat Shah Waliullah,Hujjat Ullah-el Baleghah,Pokhto Tarjuma Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Shpagam.Owwam Bahs,Haji Faqeer Muhammad and Sons Tajeran Kutab،Nooran Kutab Khana,Qissa Khwani,Peshawar,1973
27-Ibid
28-Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Naik Amal,University Book Agency,Manzoor Aam Press,Peshawar,1968.

29-Asma Ul Husna,Moratteb,Moallef aw Motarjim,Faqeer Muhamamd Abbas Qaderya,Hameedya Press,Peshawar,Islami Kotab Khan,Qissa KhaniBazar,1978.
30-Shaikh Attar,Frid Ud Din,Tazkerat Ul Awalya,Pokhto Tarjama,Faqeer Muahmmad Abbas Qaderya,Zaib Art Publishers.

31-Shamail-i-Tarmizi,Da Shaikh Ul Hadees Muhammad Zakrya Da Urdu Kitab Pokhto Tarjama,Faqqeer Muhamamd Abbas Qaderya
32-Hum Daa Kitab
33-Mawlana Muhammad Shafi,Aalaat-i- Jadeeda,Pokhto Tarjama Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Zaib Art Publishers,Pekahwar Khaar
34- Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Taweezat Sulaimani,Pokhto Tarjama,Zaib Art Publishers,Mohallah Jhang Pekhawar,July 1996
35-Hum Da Kitaab
36-Qaderya ,Faqeer Muhamamd Abbas,Rohani Elaj aw Khairan Kaseeran,Zaib Art Publishers,Mohallah Jhangi,Pekhawar,February 1991.
37-Ibid,P 21
38-Nadwi,Abul Hassan Ali,Elmi Goloona: Da elm aw Amal Khkollw Khazaane,Pokhto Tarjama Professor? Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Whaeedi Kotab Khana,Municipal Plaza,Qissa Khwani Bazar,Peshawar.
39-Nageenwi,Jaffar Ali,Kiramat-i- Awlya,Pokhto Tarjama Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Maktaba Rawzat Ul Quran Wal Uoloom-Ul-Islamya,Mohalla Jhangi Pekhawar,2001.
40-Qaderya,Faqeer Muhammad Abbas,Da Bozargaano Aqwaal,Taj Mahal Company,Qissa Khwani Bazar,Pekhawar,Chapkhana Falcon Press,Selsela Matbooat 590,Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,1985.
41-Ibid
42-Kitab-el- Maghazi,Da Nabi Akram (AS) Ghazaagaani,Pokhto Tarjama Faqeer Muhamad Abbas Qadrya,Rahman Gul Publishers,Dhaki Nalbandi,Qissa Khani,Peshawar.
43-Ibid
44-Sayyed,Muhmmad Mian( Mawlana),Tareekh Islam,Pokhto Tarjama Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Islamii Kotab Khana,Qissa Khani,Pekhawar,23 March,1986.
45-Ahmad,Ibn Hanbal(Imam),Kitab As-Salaat,Pokhto Tarjama Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Haji Fazal Ahad & Sons Tajeran Kotab,Qissa Khani Bazar,Peshawar Shehr,Kaal 1978.
46-Ibid.
47-Qaderya,Faqeer Muhammad Abbas,Da Suhabao Karamaat (Taleef),Haji Fazal Ahad & Sons Tajeran Kotab,Qissa Khani, Peshawar.
48-Ghamgeen,Ashraf,Da Hashnaghar Adab(Taleef),Hashnaghar Pokhto Adabi Tolanna,(Charsadda),February,1980.

49-Kashmiri,Anwar Shah( Mawlana),Ganjeena Asrar (Taleef),Pokhto Tarjama Faqeer Muhmmad Abbas ,Nazar-e- Thani Qari Fazal Kareem Arif,Zaib Art Publishers,Mohalla Jhangi,Pekhawar Khaar,June 2008.
50-Qaderya,Faqeer Muhammad Abbas,Da Khudai Niazbeen,Taj Mahal Company,Dhaki Monawwar Shah,Qissa Khani Bazar,Peshawar,1984
51-Hum Daa Kitab
52-Qaderya,Faqeer Muhammad Abbas,Tasawwof,Rahman Gul Publishers,Dhakki Nalbandi,Qissa Khani ,Peshawar.
53-Hum Daa Kitab
54-Dehlawi,Muhamad Qutb Ud Din(Allama Nawab),Mazahir-i- Haq Sharh Mishkat,(Taleef),Pokhto Tarjama,Professor? Faqeer Muhammad Abbas,Jeld No.10,Waheedi Kotab Khana,Qissa Khanai,Pekhawar.
55-Yamini,Yafi'ee,Imam Abdullah,Qutb Madina,Pokhto Tarjama,Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Maktaba Rawzat Ul Quran,Qissa Khani Mohalla Jangi,Pekhawar.
56-Al-Dammiri,Kamal Ud Din(Allama),Hayat-el- Haiwan( Taleef),Pokhto Tarjama,professor? Faqeer Muhammad Abbas Qaderya,Wheed Kotab Khana,Qissa Khani,Pekhawar.
57-Qaderya,Faqeer Muhammad Abbas(Allama),Asaan Tafseer el Quran,(Motarjim),Rahman Gul Publishers,Mohalla Jhangi,Qissa Khani,Pekhawar.
58-Hum Da Tafseer,Surat Ul Baqara,Wrhumbee Ayatoona.
59-Qaderya,Faqeer Muhammad Abbas,Khkollee Natoona,Rahman Gul Publishers,Dhakki Nalbandi,Qissa Khani,PeShawar,Yakam November 1977
60-Kamal,Mustafa( Doctor),Hashtnaghar: Khawra,Khalaq Aw Adab,(Da PhD Tahqeeqee Maqala-Nachapa),Pokhto Saanga,Pekhawar Pohantoon,Pekhawar,2017,Makhoona,211,212.
61-Da Faqeer Muhammad Abbas Qaderya Zwee Muhammad Tayyeb sara zma Telephoni Khabarre,Da March Attam Tareekh,Kaal Dwa Zarra Darweeshtam.